بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ



# شمالي وزيرستان: تي تي پي ته لوی ګوزار
# 6 خوارجان جهنم ته استول شوي

دشمالي وزيرستان ميرانشاه تحصيل عزيز خيل سيمه کې امنيتي ځواکونو دخفيه معلوماتو په اساس ترسره شوؤ عملياتو کې شپږ تندلاري وژلي دي۔

**د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د شتون د تاييد شوي راپور پراساس د دوی مرکز محاصره کړ او د تېښتې ټولې لارې يې بندې کړې او شپږ ترهګر يې په وحشتناکه پای ته ورسول۔**





**وژل شوي تروريستان په بهته اخيستو، اجرتی قتلونو او پر امنيتي ځواکونو په بريدونو کې لاس درلود۔**

په شمالي وزيرستان او قبايلي سيمو کې خوارج د امنيتي ځواکونو په لاس د سختو مرګ ژوبلو سره مخ دي او د دوزخ دغه مسافر په چټکۍ سره خپل وحشتناک انجام په لور روان دي او انشاءالله دا وژنې به دوام ولري۔